مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله

۲۰۱۹/۰۹/۱۹

# د ظاهري بني سره خپله وینا سمبالول

انسان ته ښایي چي د خپل عبا او قبا او یا د خپلو ظاهری جامو په سمبالښت سره خپلي خبري سمی وکړی ، او یا خپلي خبری د خپلي سپیني جامو سره پاکي او ښي اوکړي ،ځکه که دانسان خبری نا سنجیده وي ،چي د انسان د وقار د پلي خوا نیمه خوا په هوا کي پاتي نه شي ، نو د حضرت بیدل د شعر په مصداق د هر چا سره باید سنجیده خبري وشي .
لکه چي وايي:

با هرکه هر چه گویي ،سنجیده بایدت گفت
تا کـــفهء وقـــــــارت پا در هوا نـــباشد

سړی باید هغه خبری وکړي چي په زړونو اثر وکړي ، نو باید د فارسي د دي شعر په مصداق سره که سړی چپ پاتي شي غوره ده ،ځکه چي د بی رنګه او بی بویه غوټی خلاصیدل یا غوړېدل ، به غیر د رسوایي نه بل څه نه دي ،هغه ښه ده چي بی هنره لاس په لستوني کي وي ، او د لستونی نه بهر نه شي،

شگفتن غنچه یی بی رنگ وبو را می کند رسوا
همان بهــــتر که دست بی هنر در آســـتین باشد

دا به ښه وي چي لکه د ګل په څیر انسان په خاموشی کي د معنی وږمی وشیندي .

لکـــه ګل یمه خـــاموشه په ظــــــــاهر کی
خو وږمی می د سخن ، هر خوا خوري دي

نادر

ځکه چي د فارسي په یوه بله وجیزه کي چي په یو لوی ضرب المثل هم بدل شوی داسي راغلي:

تا مَرد سخن نگفتـه باشد
عیب و هنرش نهفته باشد

نو انسان ته کله په ځای خاموشي ډیر وقار بخښي ، نو دا هم باید سړی د یاده ونه باسي ، چي انسان تر د امکان یو حده پوري که د خولي نه دُر او ګوهر نه شي وروړی ،نو خپل ځان هم سپک نه کړي ،

داسي مه ګڼه چوپتیا می ،چي په هیڅ هم نه پوهیږم
لکه ګل په خــــــاموشی کي، پـه هـزارژبو ویږم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ځکه هغه حالت ډېر ناوړه دی چې انسان ته دا وبرېښي چې په فلان مجلس کې ما د نزاکته ښخه لیري خبری وکړې ، او اوس زمانه کي خو خبری هم ثبتیږي او سری د خپلو خبرو ښخه منکریدلای هم نشي ،او پیشیماني بیا ګټه نه لري .ځیني د دي له پاره چې ځان ته یو کاذب شخصیت ورکړي ،نو په خپل ویناوو کي پر له پسی په هر چا نیوکي کوي او دې ته متوجه نه وي چې په یو وخت کي په هر چا نیوکی کول د دوی خپل شخصیت د سوال لاندی راولي ، کیدای شي یو کس به وي چې دنورو خلکو هم نیوکي وربادی وي ، ولي د هر چا په هکله درسته خبره نه ده . او د سړي د تېر شووو خبري هم د اعتبار ښخه غورځوي ، او حتی مونږ حاضرینو ته غیر نورمال ښايي، نو دي ته باید پام ولرو چې خپل خپره په ډېر احتیاط او سنجیده باید پیل کړو . د حضرت حافظ د دي شعر په مصداق :

بر بساط نکته دانان خود فروشي شرط نیست
یا سخن دانسته گو ای مرد عــــاقل یا خموش

د وطن د یو دردمن شاعر شهید جنرال سید حسن (حسن) چې کله به یي (شیون) هم تخلص کاوه د هغه مرحوم دا څو بیتونه به ډیر زمونږ په بحث اړخ ولګوي هغه بیتونه دا دي:

په ظاهر لـــــباس که سپین سپیـــــڅلی برېښي
زه دې ویــــــنم په باطن باندې تــــک تـور یې

کــــه په کپ او په کـــالر وي عــلامــــــــه یې
که په علم او هنر وي ، د خــــــــره وروریې

که په خوله وي ، قوم پرست او وطن خواه یې
په عمل باندې ، کم بخـــــــته د پــــــیغور یې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ